عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۹/۲۸

# په افغانستان کې د قانونجوړونې تاریخچه

قانون جوړونه د انسانانو د ټولنیز ژوند لومړنی او بنسټي هڅه ده. په هرځای کې چې یوشمېر انسانان ګډ ژوند کوي، د خپل دغه ګډ ژوند لپاره ځیني اصول ټاکي، چې له مخې یې یو د بل په وړاندې خپل واکونه او مسئولیتونه وپېژني. د دغو اصولو په اړه چې ټول خلک یا ډیری هوکړې ته ورسیږي، نو ټولنیز قرارداد وشي او له پایلې څخه یې ترلاسه شوی سند قانون ونومول شي. دا د قانون تر ټولو ابتدایي او ساده مفهوم دی. د افغانستان خلکو هم په خپل تاریخ کې د ټولنیزو قراردادونو د اړتیا او مفهوم له پېژندنې او تکامل سره ګام پرګام د قانونجوړونې مزل وهلی او د انساني ژوند د شرایطو له پراختیا و مختګ سره یې قوانین هم نوي شوي دي. په افغانستان کې د معاصرو مدني اصلاحاتو په لړ کې د قانون جوړونې تاریخي بهیر په زرهپوري تاریخي بحث دی.

د افغانانو لوی حکیم خوشال خان خټک انسانان ټول په اصل کې سره برابر او یو شان بللي:

**سړي په اصل سره یو شان دي — که چوهري دي که بادشاهان دي**

دی د واکمنو استبداد او د خلکو له حقونو بېخبري د مملکت د تباهي لامل بولي:

**بادشاهان چې ستمناک شي — په خلل د خلکو ژواک شي**
**بادشاهان چې بی خبر شي — کار د ملک واړه ابتر شي**

د ټولنیز قرارداد او قانون جوړولو په برخه کې د خلکو او ولسونو اراده مهمه ګڼي:

**ولسونه چې سِند وبله وکا — بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار**

د افغانانو تر منځ د داسي باورونو تاریخي او لرغوني ریښي دومره زوروري دي، چې د معاصرو مدني قوانینو تر جوړېدو ډېر پخوا یې لا خپل ولسي او بومي کوډونه او عدلي بنسټونه رامنځته کړي وو. جرګې و مرکې یې لرلې او په دوديزو قوانینو کې یې عادلانه او روښانه اصول په کلکه عملي کول.
تر نومهالي مدني قانون جوړونې وړاندې په پښتني دود دستور کې د قانون ټاکنې واک له ولس او د ولس له هوښیارو مشرانو سره و.

خو همدا چې له نړۍ سره د افغانستان اړیکي زیات شول او د نورو هېوادونو تجربې راورسېدې، افغانستان هم په ډېره طبیعي توګه د معاصرو مدني اصلاحاتو په لړ کې د موډېرنې قانون جوړونې پړاوونه راپیل کړل.

د مشروطه نهضت له رڼا خپرېدو راروسته او د افغانستان د خپلواکۍ له بېرته کټلو سره هممهاله د نویو قوانینو د جوړېدو کار پیل شو. په اماني دوره کې د ټولنیز ژوند د هرې برخې لپاره نظامنامې جوړې شوې. ځوان پاچا اعلیحضرت امان الله شاه غازي دومره په قانون مین و، چې کندهار ته د دغه ولایت د چارو د تفتیش لپاره د خپل سفر پېبنلیک او پېښلید یې پخپل قلم ولیکه او نوم یې پرې کېښود : «په افغانستان کې د قانون حاکمیت» . ځوان پاچا د کندهار خلکو ته د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

«اې زما عزيزانو!

مقصد زما له راتګ څخه و کندهار ته اول مشرف کول د ځان وو په خرقه مبارکه او بيا ليدل او پوښتنه د حالو ستاسي عزيزانو وه، چې و ځان ته معلوم کم او خپله مې وغوښتل چې د مامورينو د کارروايي تفتيش او دولت د نظاماتو صورت د اجراآتو چې په تدوين کې مې د ځيګر ويني خوړلي دي اطلاعات حاصل کړم.»

پاچا وايي، چې د قوانينو او نظامنامو په تدوين کې د ځيګر ويني خوړل شوي او بايد د تطبيق څارنه يې وشي.
او په دې توګه د افغانستان د معاصرو مدني اصلاحاتو په ترڅ کې د قانون جوړوني بهير د ځيګر په وينو راپيل شو، چې تر نن پورې يې ډېرې لوړې و ژورې ليدلي دي:

خو پوښتنه پيدا کيږي، چې په افغانستان کې د معاصرو مدني اصلاحاتو په لړ کې د نويو او عصري قوانينو د جوړېدو له پيل څخه راپه دېخوا د افغانستان د قوانينو سرچيني کومې وې؟ نړيوال قوانين، عرف، فقه، نصوص او که نور؟ او تر ټولو مهم دا چې د ژوند د شرايطو له نوي کېدو سره څنګه دغه قوانين نوي کيږي، پراخيږي او هراړخيز کيږي، چې د هرې هغې زماني غوښتنو ته ځواب ووېلای شي، چې يوه بشري کتله په کې ژوند کوي. په افغانستان کې بله ربړه دا ده، چې قوانين استمرار نه‌لري. لړ هېوادونه به د افغانستان په شان په يوه پېړۍ کې دومره ګڼ او بدليدونکي اساسي قوانين تجربه کړي وي. کارپوهان په دې باور دي، چې که خلک په خپله ازاده اراده د قوانينو په جوړښت کې ونډه ولري او ترې خبر وي، بنايي د قوانينو ثبات او استمرار تضمين شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ